

موسسه مطالعات عامه افغانستان
appro
د افغانستان د عامه څېړنو مؤسسه

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

Mediothek Afghanistan

# په لویدیځ افغانستان کې د جګړې او سولې سیمه ییز لاملونه:

## د سولې لپاره د سیمه ییزي غونډي موندني




جولای ۲۰۲۱

**د سولې په لور** د فردریش ایبرت بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او د میډیوتیک افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ګډه پروژه ده.

دغه پروژه په اوو ولایتونو؛ کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیانو، ننګرهار او کابل کې د سولې فرصتونو او پر وړاندې یې شته محلي خنډونو په اړه د نظر د منظمې راکړې ورکړې اسانه کولو لپاره ډیزاین شوې ده.

دغه پروژه د سولې لپاره سیمه ییزې غونډې جوړوي ترڅو افغانان «چیرې چې میشت دي» د خبرو اترو، نظر راکړې ورکړې او فعالیتونو له لارې د شخړو هوارولو په برخه کې ونډه واخلي. په پایله کې، دغه پیښې د سولې لپاره د یوه ګډ لیدلوري رامنځته کولو په موخه د ټولنې په کچه د یوه فعال مشارکت هڅونه کوي. تصویري رسنیزې خپرونې او تولیدات مرسته کوي چې ملي، محلي او نړیوال ګټه اخیستونکي په دې اړه خبر شي او په راتلونکې کې د ګډون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

دغه لنډیز د لیکوالانو، لوسیل مارتین او سعید پرتو، له خوا د فردریش ایبرت بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او د میډیو تیک افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ترمنځ د همکارۍ د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی.

د ۲۰۲۱ کال د مارچ په ۲۹ مه، د سولې په اړه یوه محلي غونډه په هرات ښار کې جوړه شوه چې د هرات، بادغیس، فراه او د نیمروز سویل لویدیز ولایت په شمول د افغانستان د لویدیز زون د مدني ټولنې استازو په کې ګډون درلود. په هر ولایت کې د ډیموګرافیک، جغرافیې، اقتصاد او شخړو عمومي کتنه لاندې چمتو شوې، وروسته د غونډې توضیحات. دا لنډیز د دې فورم د بحثونو د نچوړ سره پای ته رسیږي.

## شالید

په ۱۳۹۸ – ۱۳۹۹ (۲۰۱۹-۲۰۲۰) کالو کې، د هېواد په ټولو ولایتونو کې خال خال جګړې وشوې او تر ۱۴۰۰ (۲۰۲۱) کاله یې ادامه لرله. په فراه، بادغیس او غور کې د دولتي ځواکونو او وسله والو مخالفینو ترمنځ جګړې لامل شوې چې خلک نیمروز، هرات، فاریاب او کندهارته بېځایه شي یا کډه وکړي (OCHA ۲۰۱۹; ۲۰۲۰). له دې سره، د دغو ولایتونو ترمنځ د شخړو بېلګې سره توپیر لري. لکه څرنګه چې په ۱ شکل کې لیدل کېږي، هر ولایت د نفوسو جلا او ټولنیز – اقتصادي ځانګړتیاوې لري.

**۱ شکل: د نفوس اټکل (۲۰۲۰)**

| ولایت | ټول | ښاري | کلیوالي |
|---|---|---|---|
| **هرات** | ۲,۱۴۰,۶۶۲ | ۶۵۲,۲۲۴ | ۱,۴۸۸,۵۴۸ |
| **بادغیس** | ۵۴۹,۵۸۳ | ۱۶,۵۹۳ | ۵۳۲,۶۳۰ |
| **فراه** | ۵۶۳,۰۲۶ | ۴۲,۷۵۲ | ۵۲۰,۲۷۴ |
| **نیمروز** | ۱۸۳,۵۵۴ | ۳۰,۳۶۸ | ۱۵۳,۱۸۶ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (۲۰۲۱)

دیته په کتو چې هرات ولایت له لویدیځ پلوه له ایران او له شمال پلوه ترکمنستان سره ګډه پوله لري یو سیمه ییز سوداګریز مرکز ګڼل کیږي. هرات له ۲,۱ میلیون تنو اټکلي نفوس سره چې نیږدې دریمه برخه یې د ولایت په مرکز او شاوخوا کې ژوند کوي، تر ټولو ګڼ ښاري نفوس لري. هرات ښار تر ډېره د دری ژبو وګړو په لرلو سره د هغو ولسوالیو او کلیو په مقابل ټکي کې ځای لري چې اکثریت پښتانه وګړي او هغه لږکي دي چې په ترکمني او ازبکي ژبو خبرې کوي.

**۲ شکل: د ښاري او کلیوالي نفوس ونډه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (2021)

د هرات ښار نفوس له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر اوسه درې چنده زیات شوی او دغه بدلون له چټکې او ناڅاپې ښار مېشتېدنې سره مل و (USIP ۲۰۱۵). د نفوسو د ودې لامل تر یوه حده له ایران څخه د کډوالو راتګ او د ناامنۍ، شدیدې وچکالۍ او سیلابونوو له امله له ګاونډیو ولایتونو څخه بېځایه کېدنه ګڼل شوې.

هرات ولایت له هغو سیاسي تاوتریخوالو څخه لرې پاتې کېدو سربېره چې له ۲۰۰۶ کال راهیسې یې د هېواد ډېره برخه اغېزمنه کړې، د فرقه یې اختلافونو او پر شعیه ګانو او د هغوی پرمشهورو ځېرو د هدفي بریدونو زیاتېدو کوربه و.

د فرقه یې شخړو یوه برخه له ایران څخه د شیعه کډوالو په راستنېدو پسې د ښار د وګړیز بافت بدلون او په عمومي توګه، د فرقه یې ډلو د سخت دریځه کېدل ګڼل کېږي (AAN ۲۰۱۹). په ۲۰۲۰ کال، د هرات له ۱۵ ولسوالیو څخه لږترلږه ۷ ولسوالۍ تریوه حده د طالبانو تر کنټرول او نفوذ لاندې ګڼل کېدې.

بادغیس او فراه ولایتونه تر ډېره کلیوالي دي، داسې چې د بادغیس ۹۷ سلنه نفوس او د فراه ۹۲ سلنه نفوس په کلیوالي سیمو کې مېشت دي. د ولایت له مرکز څخه لرې پرتو کلیو کې ژوند محدودو بنسټیزو خدمتونو ته د لږ لاسرسي مانا لري او دغه لاسرسی د سړک د زیربناوو کمښت او دغه راز د پرله پسې جګړو له امله، لا پسې محدودېږي.

بادغیس چې د هرات په ختیځ کې له ترکمنستان سره د افغانستان پر شمالي پوله پروت دی، په افغانستان کې د څو اړخیزې بېوزلۍ تر ټولو لوړه کچه (۸٦ سلنه) لري حال دا چې دغه کچه په نیمروز کې ۴۸ سلنه، په هرات کې ۵۸ سلنه او په فراه کې ٦۷ سلنه ده (UNDP ۲۰۲۰). له ۱۳۹۵ (۲۰۱٦) کال راهیسې په دې ولایتونو کې د مخالفینو فعالیتونه ډېر شوي او څو ولسوالۍ په ۱۳۹۸ او ۱۳۹۹ کالو (۲۰۱۹ او ۲۰۲۰) د طالبانو لاس ته ورغلې دي. همدارنګه په دې ولایتونو کې د خراسان اسلامي دولت د شتون راپورونه هم ورکړل شوي دي.

د دولتي ځواکونو او وسله والو مخالفینو ترمنځ نښتېد هرات ولایت په سوېل کې د ایران پر پوله پراته **فراه** ولایت یوه ځانګړتیا ده. د ۲۰۱٦ کال په اکتوبر او د ۲۰۱۸ کال په لومړیو او دغه راز د ۲۰۱۹ کال له اګسټ تر سپټمبر میاشتو پورې، طالبانو د فراه ولایت د نیولو لپاره بریدونه وکړل او د دې ښار پر عمومي اقتصادي او ټولنیز وضعیت یې فوري اغېزې پرېښودې (AAN ۲۰۱۸).

**نیمروز** د فراه په سوېل کې پروت دی او له لوېدیځ پلوه له ایران او له سوېل پلوه له پاکستان سره ګاونډ دی. دغه ولایت د اجناسو (د نېشه یي توکو په ګډون) او انسان د قاچاق لپاره له یوه ستراتیژیک موقعیت څخه برخمن دی. په دې ولایت کې د وسله والو مخالفینو فعالیتونه د نورو دریو ولایتونو په پرتله کم دي. په ۲۰۱۹ کال د ثبت شوي مرګ ژوبلې ډېره برخه د هوایي بریدونو له امله وه (UNAMA ۲۰۱۹).

په عمومي توګه، د څلور واړه ولایتونو کلیوالو ساحو ته د دولتي د لاسرسي نه شتون او په دغو سیمو کې تاوتریخجن دولتي شتون سبب شوی چې اوسېدونکي یې د خپلو شخړو هوارولو لپاره په لومړي سر کې د طالبانو محاکمو ته ورشي.

**د سولې لپاره د هرات غونډه : لنډه کتنه**

ټولټال ٦۰ تنو (۳۳ نارینه او ۲۷ ښځو) له یادو ولایتونو څخه د هرات ښار د سولې په محلي غونډه کې ګډون درلود. په پیل کې پلان داسې و چې د غور اوسېدونکي هم په دې غونډه کې برخه واخلي خو د امنیتي دلایلو له امله، دغه کار ونه شو.

په ګډونوالو کې پوهنتونیان، د خصوصي سکټور په استازیتوب ښځې او نران، ځوان فعالان، دولتي او نا دولتي موسسو کارکوونکي شامل وو. محلي دیني علماوو هم په دې غونډه کې حضور درلود.

د محلي غونډې جوړښت داسې و چې ګډونوالو له یو بل سره بحثونه کول او د ټولنې په کچه د جګړې د مهمو عواملو په اړه هوکړې ته رسېدل. ورپسې دغه عوامل پناېستانو ته ورکول کېدل او دوی په خپل وار دنده لرله چې داسې حل لارې وړاندې کړي چې له مخې

يې دغو عواملو ته د محلي او ټولنيزو نوښتونو له لارې رسېدنه وشي.



FES، MADPO، APPRO/ هرات د عکس او فلیم اخیستلو ستوډیو

په هرات کې څلورو پینالېستانو شتون درلود او د هېواد په لوېديځ کې يې د جګړې د عواملو او ورسره د مقابلې د لارو چارو په اړه د ګډونوالو لېدلورو او کتنو ته ځوابونه ورکول. د پنل په ترکيب کې، د هرات څارنوالۍ رياست يوه استازی، د هرات پوهنتون د شرعياتو پوهنځي يوه استاد، يوه حقوقي کارپوه او د مدني ټولنې يوه استازي شتون درلود.

د هرات د سيمه ييزې سولې د خبرو يوه لويه برخه د ګډونوالو ترمنځ د سولې په اړه خلاص بحث او د افغانستان د اسلامي جمهوريت او طالبانو ترمنځ د يوې موافقې امکان دی. په سيمه ايزه کچه د سولې تمه او د شخړې عناصر په لاندې ډول تشريح شوي.

**د سولې په اړه د ګډونوالو هيلې**

اکثريت ګډون کوونکي د طالبانو او افغان دولت ترمنځ د مذاکراتي هوکړې د بالقوه پايلو په اړه تر يوه حده خوش بين وو. د يادونې وړ ده چې ګڼو يې احساس درلود چې د جګړې پای ته رسول کولای شي د سوداګرۍ او پانګونې په برخو کې ثبات او اقتصادي فرصتونه رامنځته، او په کليوالي او ښاري سيمو کې د متوازنې ودې او پراختيا لپاره، شرايط چمتو کړي.

په اغيز ناکه بڼه د قانون حاکميت او د فساد کمېدلو ته هم د دولت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتي هوکړې د متوقعه پايلو په توګه ټينګار کېده.

د خبرواترو له لارې د توافق د پايلو په اړه لويې اندېښنې په لاندې ډول وې: د خلکو پر مدني او سياسي حقونو او آزاديو محدوديتونه لګېدل، د ښاري سيمو په کاري ځواک او سياسي فعاليتونو کې د ښځو پر ګډون د لا ډېرو بنديزونو لګېدل او د نړيوالو مرستو کمېدل. دغه راز يو شمېر ګډونوالو د جنګي مجرمانو د خونديتوب او معافيت او د سياسي ډلو او ګوندونو لاس ته د قدرت لوېدلو په اړه هم اندېښنې وښودې.

**د شخړې سيمه ييز لاملونه**

د محلي جنګ جګړو د عواملو په اړه، څلورو اصلي عواملو ته اشاره شوې چې په لاندې ډول دي:

- د سخت دريځو ډلو د نفوذ او کنټرول ډېرېدل
- د قومي، ژبنيو او فرقه يي ټراوونو په سر اختلافونه
- د قانون د واکمنۍ نه شتون او
- کمزورې حکومتوالي.

د هر فکتور ځانګړنې او خصوصيات او له هغه سره د مقابلې لارې چارې چې په ګروپي بڼه تر بحث لاندې نيول شوې، په لاندې بڼه تشريح کيږي:

**لومړۍ ستونزه: د دولت د مخالفو افراطي يا سخت دريځو وسله والو ډلو د نفوذ او نا مشروع اقتصاد ډېرېدل**

ګډونوالو د ټولې لوېديځې حوزې په ټولنو کې د « دخراسان د اسلامي دولت » د شتون له ډېرېدو سربېره، د افراطي او سخت دريځو افکارو د پراخېدو په اړه اندېښنې وښودې. د دغې ډېرېدنې لامل ټولنيزه بې اتفاقي او د خلکو د مختلفو برخو ترمنځ د ټولنيزو تعاملاتو ټيټه کچه ګڼل کېږي.

د داسې ديني مدرسو شتون چې تر څارنې او کنټرول لاندې نه دي، د سخت دريځی د تبليغ لوی لامل ګڼل شوی او ويل شوي چې ځوان نارينه په ځانګړې توګه د افراطي او سخت دريځو افکارو په درشل کې ځای لري. د دغه زيانمتوب لامل د ټولنيزو او فرهنګي فعاليتونو کمښت او په لرې پرتو سيمو کې د اقتصادي فعاليتونو نه شتون ګڼل شوی دی.

په نړيوالو پولو کې اخلال تـه هـم د جنسونو او انسان پر قاچاق د يـوه اغېز لرونکي عامل په توګه اشاره شوې چې پـه خپـل وار د نېشـه يـي توکـو د اقتصـاد ځرګندېـدو زمينـه برابـروي او دغـه کار افراطـي ډلـو، مخالـف وسـله والـو او محلي زورواکانو تـه ګټـه رسـوي او پـه پـای کـې د جګـړې د شـدت سـبب کېـږي.

لـه سـخت دريځـی سره مقابلـه پـه خپـل وار پـه ښـوونيزه، فرهنګـي او دينـي حـوزو کـې ګـډو هلوځلـو تـه اړتيـا لـري. پـه ځانګـړې توګـه، ګـڼ شـمېر ګډونوالـو احسـاس درلـود چـې د حـج او اوقافـو وزارت بايـد پـر دينـي مدرسـو د اغېزناکې څارنې او لارښـونې سربېره، د دغـو شـان هڅـو پـه مخکـې وړلـو کـې، مخکښ رول ولـري.

د کليوالي سيمو د ټولنيز ژوندانه د يـوې سرچينې پـه توګـه پـه سـيمه کـې د مخـدره مـوادو اقتصـادي اهميـت تـه هـم د جګـړې او بـې ثباتـی د يـوه سـتر عامـل پـه سـترګه کتـل شـوي. د افغانسـتان لوېديځـه سيمه پـه هېـواد کـې د کوکنـارو د توليـد دويـم سـترځای دی او د سرحـدي سـتراتيژيک موقعيـت لـه املـه، د قاچـاق مرکـز هـم ګڼـل کېـږي.

د زعفرانـو پـه څېـر ډېـره ګټـه لرونکـو محصولاتـو پـر ودې او پراختيـا پانګونـه چـې پـه هـرات ولايـت کـې بريـالي دي، د بادغيـس او فـراه ولايتونـو پـه ګـډون د کوکنـارو د نـورو توليدوونکـو ولايتونـو لپـاره د يـوې حـل لارې پـه توګـه وړانـدې شـوې. فـراه او بادغيـس د هېـواد پـه کچـه د ترياکـو د توليـد لـه پلـوه پـه ۲۰۱۹ کال پـه ترتيـب سره څلـورم او پنځـم ځـای لـري (UNODC ۲۰۲۱).

پـه عمومـي توګـه، ويـل شـوي هغـه دولتـي بنسـتونه چـې لـه ښـار څخـه وتليـو سـاحو تـه لـږ لاسرسـی لـري، تـر ډېـره د خلکـو عمومـي اندېښـنو لـرې کولـو او د سـخت دريځـی د مهارولـو لپـاره کافي وړتيـا نـه لـري:

*دولتـي چاروا کـي [...] تـل وايـي چـې «مـوږ غـواړو [لـه افراطيـت سره مبـارزه وکـړوږ] او پـه دې برخـه کـې لـه اړيـن نفـوذ څخـه هـم برخمـن يـو.» مګـر مـوږ او تاسـو وينـو چـې آيـا دغـو ادارو د افراطيـت او سـخت دريځـی پـه کمولـو کـې کار کـړی يـا نـه؟*

*۱ شمېره ګډونوال، مدني ټولنه*

**دويمه ستونزه: قومي، ژبني او فرقه يي اختلافونه**

پـه ټولنـو کـې جګـړې او تاوتريخوالـی د قومـي ترۀوونـو يـا مذهبـي تعلقاتـو پـر بنسـټ د اختلافونـو د يـوې پايلـې پـه توګـه پـه پـام کـې نيـول شـوی. پـر هـرات د هغـه ځـای پـه توګـه ټينګار شـوی چـې پـه ورسـتيو کـې د شـيعه ګانـو پـر وړانـدې هـدفي وژنـو پـه کـې زور اخيسـتی او زور واکان د خپلـو ګټـو لپـاره لـه فرقـه يـي اختلافونـو څخـه د سـياسي ګټنـې پـه توګـه کار اخـلي.

دينـې علـما د هغـو کسـانو پـه توګـه پـه پـام کـې نيـول کېـږي چـې د دغـه شـان مسـايلو د هوارولـو لپـاره تـر ټولـو ډېـر واک او وړتيـا لـري. ويـل شـوي چـې د هـرات د اسـلامي ورورولـۍ يـا اخـوت شـورا تـر اوسـه د تاوتريخـوالي لـه ډېرېـدو څخـه پـه مخنيـوي کـې رغنـده رول لوبولـی. دغـه شـورا چـې رسـما پـه ۲۰۱۶ کال پـه هـرات کـې جـوړه شـوه، پـه کـې شـيعه او سـني مذهبـه دينـي علـما راټـول دي ترڅـو د دينـي وحـدت د حـل لارو پـه اړه بحثونـه وکـړي او د لوېديځـو تمويلوونکـو فرقـه يـي پاليسـی پـه هېـواد کـې د ټولنيـزو اختلافونـو د يـوه لامـل پـه توګـه، تـر نيوکـو لانـدې ونيسـي (AVA ۲۰۱۶).

د ټولنـې پـه کچـه د مخـورو او سـپين ږيـرو د رول پـه اړه، د ګډونوالـو لـه خـوا بېلابېـل ليدلـوري وړانـدې شـوي دي. يـو شـمېر کسـانو سـپين ږيـري د هغـو مهمـو فکټورونـو پـه توګـه ګڼـلي چـې د شـخړو او اختلافونـو د خنثـی کولـو لپـاره کافي ظرفيـت لـري، حـال دا چـې ځينـې نـور يـې د هغـه نسـل غـړي بـولي چـې افغـان وګـړو تـه يـې شـخړه او ويجاړتيـا پـه ميـراث پـرې اېښـې دي.

پـه پـای کـې، ګډونوالـو لـه نفـاق اچوونکـو ليدلـورو سره د مقابلـې او د توپيرونـو او اختلافونـو پـه ځـای د مشـترکاتو پـه خپرولـو کـې د رسـنيو او مـدني ټولنـو پـر رول ټينـګار وکـړ.



FES، MADPO، APPRO/ هرات د عکس او فلم اخیستلو ستوډیو

**درېیمه ستونزه: د قانون د واکمنۍ نه شتون**

دا موضوع د جګړې او شخړو د دوام یو بل عامل وګڼل شوه چې د اساسي قانون او نورو قوانینو احکام د خلکو له حقونو څخه د ملاتړ لپاره په نا برابره بڼه پلي کېږي.

د ځواکمنو کسانو خوندیتوب د حکومتوالۍ د یوې بڼې په توګه د تاوتریخوالي له پراخېدو سره مرسته کوي. له مجازاتو څخه دغه خوندیتوب پر عدلي قضایي نظام د خلکو باور تر جدي اغېز لاندې نیولی، په ځانګړې توګه دېته په کتو چې په مقابل ټکي کې، د زیانمنو شویو، بې واسطې او د رشوت نه ورکوونکو کسانو ستونزې او خبرې، ډېرې لږ جدي ګڼل کېږي. دغه شان کسانو ته د جرم کولو په صورت کې ډېر کله په نامتناسبه او خپلسرې بڼه سزا ورکول کیږي.

*په دې ښار (هرات) کې ما داسې کسان لیدلي چې وژنه یې کړې خو لا هم خلاصې تنې ګرځي. [...] د غور ولایت داسې کس پېژنم چې هېڅوک یې نه وو وژلي خو ۲۱ کاله بند یې تېر کړ.*

**دویمه شمېره ګډونوال، خپلواک.**

ګډونوالو په ځانګړې توګه عدلي قضایي نظام کې د واسطه بازۍ له نهادینه کېدو وروسته، د پورته مسایلو د هوارې لپاره چندان تمه نه لرله.

**څلورمه ستونزه: کمزورې حکومتوالي**

بله مسئله چې د هېواد په عدلي-قضایي سکټور کې له شته نیمګړتیاوو او نابرابریو سره نیږدې اړیکه لري، د فساد له پراخېدو څخه عبارت ده. ګډونوالو راپور ورکړ چې فساد او واسطه بازي له دولتي ادارو سره د خلکو ورځنۍ اړیکې پرې کوي، د قانون د تنفیذ مخه نیسي، په دولتي بنسټونو کې ګمارنې او انتصابونه تر سیورې لاندې راولي او د دولتي خدمتونو اغېزمنتوب راکموي. مثال:

*خپله زه، کله چې د اداري فساد د ژور توب په اړه فکر کوم، له تروریزم هم خطرناک دی؛ ځکه چې زه په دې اړه ډېر زیات او جالب دلایل لرم چې اداري فساد څه ډول د ترهګرۍ له ودې، د طالبانو او نورو وسله والو ډلو له پیاوړتیا سره مرسته کوي.*

*- دویمه شمېره ګډونوال، خپلواک.*

یا

*کار اهل کار ته نه سپارل کېږي، موږ په همدې ټولنه کې ډېر داسې لویان لرو چې لیاقت، ورتیا، توانایي، پوهه، هېواد پالنه او وګړ دوستي لري خو له بده مرغه ادارو ته د ورتګ اجازه هم نه ورکول کېږي. تر هغو چې په دې برخه کې سیستم بنسټیزنه شي، موږ نه شو کولای ووایو چې موږ غوره حکومتوالي لرو یا کولای شو سوله ټینګه کړو.*

*- درېیمه شمېره ګډونوال، مدني ټولنه*

**پایله**

په هرات او نورو ځایونو کې د سولې لپاره د محلي غونډو یوه لویه ستونزه دا وه چې پنالیستان د ځواب ورکولو پرمهال، پر هغو محلي عواملو او فکټورونو خپل تمرکز له لاسه ورنه کړي چې کولای شي د محلي شخړو په هوارولو کې مهم رول ولري. پنالیستانو پر هغو ټاکل شویو ټولنیزو مسایلو د تمرکز پرځای چې د ګډونوالو له خوا مطرح شوي وو، تر ډېره تمایل درلود چې پر بهرنیو

عواملو لکه د افغانستان په کورنیو چارو کې د بهرنیو هېوادونو پر لاسوهنې تمرکز ولري یا هم د «د بهرنیو اجنتانو» افغانانو پر رول کوم چې په هېواد کې د افراطي افکارو خپرېدو ته لمن وهي.

د جګړې د محلي محرکاتو په اړه لومړۍ کتنه، د بحثونو په لړ کې د مطرح شویو عواملو ترمنځ ژور پیوستون دی. اوږدمهاله او سیستماتیک فساد او د قانون نا واکمنی ته د ټولو موضوعاتو د مطرح کولو پرمهال اشاره شوې. اکثریت ګډونوال په دې اند دي چې دغه عوامل د هېواد اقتصادي وده ټکنی کوي، له خلکو څخه اوسني فرصتونه اخلي، د ګټه لرونکو ډلو د ناوړه ګټنې د شدت سبب کېږي، په حکومت کې د روڼتیا او حساب ورکونې مخه نیسي او د حکومتوالۍ پر رسمي بنسټونو د خلکو باور له منځه وړي.

د هرات له غونډې څخه دویمه موندنه دا ده چې ګډونوالو د بحثونو په لړ کې، پر کورنیو جګړو، د محلي سیاستوالو او جنایي شبکو ترمنځ پر اړیکو د مخدره موادو پر اقتصادي اغېز، شدید تمرکز درلود. د مخدره موادو د قاچاق په اړه غفلت په ښکاره بڼه د کلیوالو خلکو د ناوړه اقتصادي وضعیت له نه پاملرنې سره اړیکه لري او تر ډېره د کوکنارو له کرکیلي او د نېشه یي توکو له قاچاق پرته، بله چاره نه لري.

د مطرح شویو مسایلو لپاره د حل لارو وړاندې کولو په اړه بحثونو کې، هغه کسان د دغه شان کار په سرته رسولو کې بې وسه ګڼل شوي چې د جګړې عواملو ته په رسېدنه کې تر ټولو ډېره ګټه لري: خلک او مدني ټولنې د بې وسی، اکاډمیک بنسټونه د کافي سرچینو نه لرلو او ځواکمنو فکتورونو ته د لاسرسي نه لرلو له امله.

برعکس، هغه فکتورونه چې ویل کېده کولای شي په محلي چارو کې تر ټولو ډېر نفوذ ولري، د ګډونوالو له نظره د شخړو په هوارولو کې لږ ګټې لري ـ او دا خبره د اکثریت دیني علماوو په اړه ریښتینې ده – یا دا چې ریښتیا هم هماغه کسان دي – لکه محلي زور واکان او د مخدره موادو قاچاقچیان – کوم چې د ویجاړونې تر ټولو لوی ظرفیت او پوټنشیل لري.

هغه بله موضوع چې د بحثونو په لړ کې تکرار شوه، دا وه چې اړتیا ده ټولنې د محلي او دیني مشرانو په ګډون، د جګړې د علتونو یوې برخې ته د حل لارو په موندلو کې، سیستماتیک ګډون ولري. طالب پلوه ټولنو ته د ګډون ورکولو اهمیت هم هغه بله موضوع وه چې هم د ګډونوالو او هم د پنالیستانو له خوا پرې ټینګار وشو.

رسمي زده کړې او ښوونه روزنه ډېرکله د داسې مهمې وسیلې په توګه یادېږي چې کولای شي د هغو اختلافونو په لمنځه وړلو کې مهم رول ولري چې د جګړو او شخړو له امله منځ ته راځي او هم له هغو سخت دریځو لیدلورو سره په مقابله کې رول لري چې له ملکي وګړو سره د تاوتریخوالي سبب کېږي. له دې سره، د بادغیس ولایت د یوه ګډونوال په خبره، ښوونه روزنه خپله هم یو نفاق اچوونکی امر کېدای شي. د ښوونې روزنې منځپانګه، په درسي نصاب کې راغلي موضوعات او هغه شرایط د جګړې د دواړو غاړو ترمنځ د شخړې او مناقشې وړ موضوعات دي چې په کې ښوونه ترسره کېږي؛ د دې کار غبرګون په فراه او بادغیس ولایتونو کې پر ښوونځیو په وروستیو بریدونو کې لیدلای شو (UNAMA 2019, Tolonews 2019, Salam Times 2020). له دې ټولو سره، ګډونوالو ټینګار وکړ چې په محلي کچه د ښوونې روزنې د نهادینه کولو لپاره د یوې ګډې حل لارې وړاندې کول دېته اړتیا لري چې هم د افغان دولت استازي او هم طالبان په دغې پروسه کې په محلي کچه ـ او ځانګړې توګه لرې پرتو کلیوالو سیمو کې – ګډون ولري.

د غونډې تمرکز د جګړې پر محلي محرکاتو و خو بیا هم، د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالب او دولتي استازو ترمنځ د سولې رواني خبرې اترې، د غونډې په ټولو برخو کې حس کېدې. د دوحې پر خبرو اترو تمرکز د «سولې» په اړه پر انګېرنو اغېز درلود او دلته د جګړې پای ته رسولو په توګه نه بلکې د سیاستوالو او جګړه مارو ترمنځ د یوه توافق په سترګه ورته کتل کېږي. له دې لیدلوري، «سولې» ته د هغو ښکېلو کسانو له خوا د یوه داسې تښتول شوي امر په توګه کتل کېږي چې د عادي ولس پر وړاندې شته واقعیتونو څخه جلا او شلېدلي دي.

پـه محلي کچـه د جگـړو او کړکېچونـو د ټولنيـزو، اقتصـادي او تشـکيلاتي عواملـو پـه اړه د ګډونوالـو کتنـې او مشـاهدې ځرګنـدوي چـې اغېزناکـه سـوله پـه خپـل وار د جګـړې د ښـکېلو غـاړو ترمنـځ پـه لـوړه کچـه د يـوه توافـق يـا تـړون لـه لاسـليکولو ور هـا خـوا، ډېـرو نـورو څيزونـو تـه هـم اړتيـا لـري.

د بې عدالتـی، نـا برابريـو او بېوزلـی د بنسـټيزو عواملـو څېړنې پـه لاره کـې سيسـټماتيک او نظامنـد ګـډون، د ټولنيـزو کړکېچونـو لـه منځـه وړلـو او تلپاتـې سـولې تـه د رسـېدلو لپـاره، يـو اړيـن امـر دی.

**تصديق**

د پوښتنې انځور د محمد عارف کريمي له خوا اخيستل شوی.

**قانوني يادونه او د مسؤليت نه منل**

© د کاپي او نورو ټولو حقونو حق د APPRO، MADPO او FES موسسو لپاره خوندي دی.

د دې اثـر هېـڅ يـوه برخـه لـه APPRO (www.appro.org.af) موسسـې، MADPO (www.mediothek-afghanistan.org) او FES (www.afghanistan.fes.de) څخـه لـه ليکلـې اجـازې پرتـه، د بيا توليـد او د بيـا موندلـو پـه سيسـټم کـې د زېرمـه کولـو وړتيا نـه لـري او اجازه نـه شته چې په هره بڼه يـا د هرې وسـيلې پـه کارولـو سره بـل ځـای تـه ولېـږدول شي.

## سرچينې:


Afghanistan Voice Agency. Daftar Shura-ye Akhwat-e Eslami Rasman Aghaz be Kar Kard. Afghanistan Voice Agency. August 21, 2016. https://avapress.com/fa/4833/د اسلامي ورورولۍ شورا دفتر رسماً په کار پیل وکړ

Kazemi, Reza. Sepculation Abounding: Trying to make sense of the attcks against Shia in Herat city. Afghanistan Analysts Network. February 3 2019. https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/speculation-/abounding-trying-to-make-sense-of-the-attacks-against-shias-in-herat-city

National Statistics and Information Authority (2021). Afghanistan Statistical Yearbook 2020. Issue No: 42. https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/04/Afghanistan-Statistical-Yearbook-first-Version.pdf

Leslie, J. (2015). Political and Economic Dynamics of Herat. United States Institute for Peace. https://www.usip.org/sites/default/files/PW107-Political-and-Economic-Dynamics-of-Herat.pdf

Omar. Enemies of education: Taliban blow up newly constructed school in Badghis. Salaam Times. May 13, 2020. https://afghanistan.asia-news.com/en_GB/articles/cnmi_st/features/2020/05/13/feature-02

Ruttig, Thomas. Why Farah? A Short History of The Local Insurgency (II). Afghanistan Analysts Network. June 7, 2018. https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/why-farah-a-short-history-of-the-local-/insurgency-ii

Tolonews. Unknown Armed Men ' Destroy" Girls' School in Farah. Tolonews. April 15, 2019. https://tolonews.com/afghanistan/unknown-armed-men-'destroy'-girls'-school-farah

United Nations' Assistance Mission in Afghanistan (2019). Afghanistan. Protection of Civilians in Armed Conflict: 2019. https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_annual_report_2019_-_22_february.pdf

United Nations Development Program (2020). Pitfalls and Promises of Mineral Extraction. Afghanistan Human Development Report 2020. http://hdr.undp.org/sites/default/files/2020_nhdr_afganistan_en.pdf

United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (2019). Afghanistan – Conflict Induced Displacement 2019. https://data.humdata.org/dataset/afghanistan-conflict-induced-displacements-in-2019

Afghanistan. Weekly Humanitarian Update: 14-20 December 2020. December .(2020) ___________________ 2020. https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afghanistan_humanitarian_weekly_20_december_2020.pdf

United Nations Office on Drugs and Crime (2021). Afghanistan Opium Survey 2019. Socio-economic survey report: Drivers, causes and consequences of opium poppy cultivation. https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/20210217_report_with_cover_for_web_small.pdf